مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد

آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۸/۲۳

# د خوشحال خان ختک آثار

## سواتنامه ، دویمه برخه

## خوشحال پوهنه

## ۳۲

**کـتـابـونه پـر سر کـیـږدي ځــان ملا کا**
**پــه هــر کلي محلت گـرځي تګي غلا کا**

*****

**پـه مسجد راځي پـنـځـه وخـتــه آذان کا**
**چـې زکات سرسایه نه وي مسجد وران کا**

*****

**نه یې خط وي، نه یې لوست، همه تګي کا**
**تـعـویــزونـه بــه کـوي، دروغ داري کا**





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

د خټکو او یوسفزیو تر منځ له پخوا نه سخت رقابت موجود و. مهمه موضوع دا وه چې د یوسفزیو قوم د مغولي واکدارانو سره هم د تولنیز ـ اقتصادي جوړښت په برخه کې تضاد درلود. مغولي نظام او د خټکو قبیله د فیودالي نظام په چوکاټ کې روان وو، خو په یوسفزیو کې د شیخ ملي د ویش سیستم جاري و(ادبي ځیرنې، ۲۷۷ ام مخ) د یادو تضادونو په وجه، وژل راوژل په کې ډیر وو، آن تر دې چې د خوشحال خان پلار هم د وژلو په همدې رقابتونو کې و وژل شو، خو بیا هم خوشحال ته بله لار نه وه ور پاتې پرته له دې چې یوسفزیو باندې د مرستې غږ وکړي. حالاتو په خوشحال خان باندې دغسې راوستل چې له دښمنیو او تضادونو سره سره باید د جرګو مرکو له پاره سوات ته یوسفزیو ته ورشي.

علامه حبیبي د افضل خان خټک د تاریخ مرصع په حواله لیکي چې: «خوشحال خان د ۱۰۸۶ ق د دریمي خور په اومه سوات ته رهي شو، اوه میاشتې هلته وګرزید، د یوسفزیو ښه او بد یې ګرده ولیدل. بې له سواتنامې، د ده په نورو شعرونو کې هم د سوات او سواتیانو یادونه ډیره شوې ده او د دوی د ژوندانه ظاهري او معنوي څنګونه یې روښانه کړي دي او په کره کتنه ورته ځیر شوی دی...»
(خټک خوشحال خان، سواتنامه، د افغانستان د علومو اکادیمی، د ژبو او ادبیاتو انستیتوت په ۱۳۵۸ کال، د استاد حبیبي مقدمه، ۷۴ ام مخ)
د دغې ځیرنې پر مهال زه د خوشحال د سواتنامې دوه چاپي متنونه په واک کې لرم:
ـ د سواتنامې هغه چاپي متن چې د افغانستان د علومو اکادیمی، د ژبو او ادبیاتو انستیتوت په ۱۳۵۸ کال خپور کړی دی،
ـ د سواتنامې هغه متن چې ښاغلي زاهد مشواني د خوشحال په کلیاتو کې را اخیستی دی.






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

توپیر یي دا دی چې د خوشحال په کلیاتو کې چې ښاغلي مشواني د سواتنامې کوم متن را اخیستی دی، عادي متن دی، خو د علومو اکادیمی خپور کړی متن توضیحات، سریزه او څرګنوونې لري او هم یې د متن هر بیت ته شمیرې وهلي چې د بیتونو په نښه کولو، ښودلو او مآخذ ورکولو کې ډیره ښه مرسته کولای شي.
دا چې تر نن ورځې پورې د خوشحال خان ختک سواتنامه څو ځلې، څه وخت او چیرې چاپ شوې ده، د اوس له پاره ما ته بشپړ مالومات نه شته، خو استاد هیوادمل په «ننګیالی د زماني» نومي اثر کې چې په ۱۳۸۰ ل کې چاپ شوی دی، د خوشحال د سواتنامې د خپریدو په باب داسې لیکلي دي:
«سواتنامه افضل خان ختک په تاریخ مرصع کې هم را اخیستې ده. نورې نسخې یې هم شته. لومړی ځل ارواښاد رسا په ارمغان خوشحال کې چاپ کړه، بیا د تاریخ مرصع په چاپي نسخه کې راغله. تحقیقي متن یې د تاریخ مرصع او ارمغان له مخې ارواښاد استاد عبدالحی حبیبي چاپ ته آماده کړ او په ۱۳۵۸ هـ ق کال د دوی له شروحو او مقدمې سره د افغانستان د علومو اکادیمی له خوا چاپ شو.»
(هیواد مل سر محقق زلمی، ننګیالی د زماني، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني، ۱۳۸۰ــ ۲۰۰۱م، ۱۸۶ ام مخ)
کله چې د خوشحال په سر کې د ملي پاڅون فکر ا و د آزادی د غورځنګ مفکوره پیدا شو نو په ښکاره یې و ویل:

**و مغل و ته به نن کرم اتک پوله**
**ملک به خلاص کړم د مغل له غاله غوله**

**چې په زره کړم دا یو څو خبرې یادې**
**نورې واړه اندیښنې شې را ته بادې**

**و مغول وته خبرې په وربوز کړم**
**سر مې پریوځه که به سر ورته بیا کوز کړم**

**نه په خپل، نه په پردي یم، خو په ننګ یم**
**په دا ننګ کې زرورور سره په جنګ یم**

**دا هم شکر چې مې وترله توره**
**زما توره په جهان شوله مشهوره**

**په دا کار که یوسفزیه بې وفا شي**
**الوداع ده چې زما به ورته شا شي**

**خدای دې نه کا، که له موږه یو کنډو شي**
**بیا به هله په چا جوړ د مغول دو شي**

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۷۴۱ ام مخ)

په سواتنامه کې خوشحال خان سره له دې چې د سوات د ښې هوا، خسران، ښکار او... یادونه کوي، خو د خوشحال د سیاسي هڅو له ژورې مطالعې ښکاري چې خوشحال سوات ته د تفریح او سیاحت له پاره نه و تللی، بلکې دهغه اصلي موخه سیاسي کار و چې خلک پوه کړي او د مغلي امپراتورۍ پر ضد یې را جګ کړي. د سواتنامې د مقدمې په یوه برخه کې حبیبي صاحب وایي:
«خوشحال خان اوه میاشتې په سوات کې د خلکو په را پاڅونه او سره را ټولونه لګیا و. هلته هم شاهي دربار لاس درلود او ملکان او پیران یې سره را لمسول. میان نور د یوسفزیو پیر، چې د لښکرو کولو په چارو کې خنډ اچاوه، د خوشحال خان په تلقین ظاهراً د شاهي دربار له سیلي څخه لاس واخیست، خو په پټه به د پردو په لمسون په خپلو تیر ایستنو او غولونو لګیا و:

**و مغلو ته چې کښل شیخ میان نور کړه**
**ما وې نور دا هسې مه کړه، ده منظور کړه**

**(خو) د لښکرو په وتلو اولس ساز شي**
**بیا د ده له فعله بل فعل آغاز شي**

(ختک خوشحال خان، سواتنامه، د افغانستان د علومو اکادیمی، د ژبو او ادبیاتو انستیتوت په ۱۳۵۸ کال، د استاد حبیبي مقدمه، ۷۶ ام مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سره له دې چي خوشحال خان د خپلو سفرونو او بلنو پایله دومره ښه نه ګڼي او وايي:

**تیراه مي ولیده، راغلم تر سواته**
**پښتون مي ولید، دا لوی، لوی ذاته**

**عقل همت مي د چا و نه لیده**
**په بیارته راغلم، ناست یم ملا ماته**

خو حبیبي صاحب بیا د خوشحال دا حرکتونه، بلني او سیاسي هڅې مثبتې ارزیابي کړې دي. حبیبي صاحب وايي: «د خوشحال خان دغه حرکت خو د پښتون د اجتماعي ژوندانه د مراحلو یو پوړ و، چي د پیر روښان د نهضت پایڅوړ او د میرویس هوتک د قندهار د آزادیخواهانو مقدمت الجیش ګڼله شي، نو ځکه زه دغه ملي غورځنګ نا مراده نه بولم او د افضل خان هغو لیکنو ته حواله ورکوم چي د میرویس خان معاصرو او د ده ملي غورځنګ ته یي په خورا ډیره هیله او امید کتل...»
(خټک خوشحال خان، سواتنامه، د افغانستان د علومو اکادیمی، د ژبو او ادبیاتو انستیتوت په ۱۳۵۸ کال، د استاد حبیبي مقدمه، ۷۷ ام مخ)

که د سواتنامي متن په ځیر سره ولوستل شي، لیدل کیږي چي خوشحال خان یوسفزي له هره اړخه تر انتقاد لاندي راوستي دي. د دوی د ژوند هر اړخ ته په پام سره یي تولي نیمګړتیاوي په ښنه کړې دي. له سواتنامي څخه دا لاندي منتخب بیتونه یي څو بیلګي کیدای شي:

**یوسفزیه چي د ننګ په کار کي سست دي**
**یا په دین کي خارجي او نا دانست دي**

**زه چي بد وربانـدي وایم، منافق دي**
**چي بد ډیر وربانـدي وایم، نا لایق دي**

**رافضي بـه دي زمـا وسپي تـه نـه واي**
**دا خـبري یـوسـفـزو ویـلـي نـه واي**

**پـه سلوک کي محقق نه، مقلد دي**
**کان د مکر، کان د کذب، کان د ضد دي**

**د بدیـو وفـتـنـو تـه غـویـږي څـکـي**
**د غـوښتـني نـیاز نـظـر تـه سترګي لـکي**

**چي باران پـه خلايق باندي وريږي**
**وایي واړه د میا جي پـه دُعا کـیږي**

**خپل مراد د میاجي نـه همیش غواړي**
**هـلـکان د کونـدو رنـدو ورتـه ژاړي**

**دا همه واړه شامت د ده بي باک دی**
**دا څه خلک، څه ولس، څه زیست و ژواک دی**

(د خوشال کلیات، د زاهد مشواني اوډنه، د ۲۰۰۵ کال چاپ، ۷۵۳مخ)

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ